هغه رڼ دی، خو د هغو ورځو په اندازه لمونځ پرېږده څومره به چې مخکې حیض کېدلې، بیا غسل وکړه او لمونځ وکړه

له ام المؤمنین عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې فاطمه بنت أبی حبیش له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه ویې ویيل: زه چې حیض شم نه پاکیږم، نو آیا لمونځ پرېږدم؟ هغه وفرمایل: «نه، هغه رڼ دی، خو د هغو ورځو په اندازه لمونځ پرېږده څومره به چې مخکې حیض کېدلې، بیا غسل وکړه او لمونځ وکړه».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

فاطمه بنت حبیش له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه ویې ویيل: زما وینه نه دریږي او همداسې جاري وي تر دې چې د حیض نېټه هم تېره شي، نو آیا حکم یې د حیض حکم دی چې لمونځ پرېږدم؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: هغه د استحاضې وینه ده چې په حقیقت کې د ناروغۍ وینه ده او په رحم کې د یو رڼ د پرې کېدو له امله رامنځته کېږي او د حیض وینه نه ده. نو کله چې د حیض وخت راشي چې ته به پکې د میاشتني عادت له مخې حیض کېدلې مخکې لدې چې دا ناروغي درته پیدا شي، نو لمونځ، روژه او هر هغه کار پرېږده چې حیض لرونکي ترې د حیض پر مهال منع شوي دي. او کله چې د هغه نېټې په اندازه وخت پای ته ورسیږي، نو ته به له حیض څخه پاکه شوې یې، نو د وینې ځای ومینځه، بیا دې ټول ځان په بشپړه توګه وومینځه چې بې اودسي درڅخه لاړه شي، بیا لمونځ وکړه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3029